Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

# د ادغام کورس په اړه لارښود

د هغو بهرنیانو لپاره چې دمخه له ډیرې مودې راهیسې په آلمان کې ژوند کوي، د اروپايي اتحادیې اتباع، د اروپا د اقتصادي سیمې د یوه هیواد اتباع او د آلماني ژبې کافي پوهې پرته د آلمان اتباعو لپاره.

ګرانو هیوادوالو،

که تاسو د اوږدې مودې لپاره په آلمان کې د بهرني وګړی په توګه ژوند کوئ یا که تاسو د اروپايي اتحادیې تبعه یاست یا د اروپا د اقتصادي سیمې د یوه هیواد تبعه یاست یا که تاسو د آلمانی په توګه د آلماني ژبې کافي پوهه نلرئ، تاسو کولی شئ د ادغام په یوه کورس کې د داخلې لپاره د مهاجرت او کډوالو فدرالي دفتر ته غوښتنلیک ورکړئ.

ماشومان، تنکي ځوانان او ځوان بالغ کسان چې لا هم ښوونځي ته ځي، نشي کولی د ادغام په کورس کې ګډون وکړي.

د ادغام کورس څه شی دی؟.

د ادغام عمومي کورس دوه برخې لري، د ژبې کورس او د سمت یابی کورس.

د ژبې په کورس کې به تاسو هغه لغتونه زده کړئ چې تاسو یې په ورځني ژوند کې خبرې کولو او لیکلو ته اړتیا لرئ. پدې کې د دولتي ادارو سره تماسونه، د ګاونډیانو سره او د کار په ځای کې خبرې اترې ، د لیکونو لیکل او د فورمو ډکول شامل دي.

د سمت یابی کورس تاسو ته په آلمان کې د ژوند په اړه معلومات درکوي. دلته به تاسو د هیواد د حقوقي سیستم، کلتور او وروستي تاریخ په اړه زده کړه کوئ.

د ادغام عمومي کورس د 600 درسي ساعتونه سره (یو درسي ساعت ۴۵ دقیقې دوام کوي) د ژبې یو کورس او د 100 درسي ساعتونو سره د سمت یابی یو کورس لری. د ژبې کورس د کورس شپږ برخې لري، هر یو د 100درسي ساعتونو سره. لومړني 300 درسي ساعتونه بنسټیز کورس، وروسته 300 درسي ساعتونه د ژبې پرمختللي کورس بلل کیږي..

د ادغام ځانګړي کورسونه هم شتون لري، د بیلګې په توګه د ښځو، والدینو، ځوانانو او د هغو کسانو لپاره چې په سمه توګه لوستل او لیکل نشي کولی. دا کورسونه 1000 درسي ساعتونو دوام کوي.

که تاسو په ځانګړي توګه په چټکۍ سره زده کړه وکړئ، تاسو کولی شئ په یوه لوړه کچه یا انتنزیف کورس کې ګډون وکړئ. هغه موسسه چې د ادغام کورسونه ترسره کوي، په اصطلاح د "کورس چمتو کونکی" به تاسو سره به د کورس له پیل څخه مخکې به د سوې طبقه بندی یوه ازموینه ترسره کړي. دی جریان کې به مشخص شي، چې کوم کورس او کورس برخه ستاسو لپاره غوره ده چې پیل یې کړئ. د سویې طبقه بندی ازموینه وړیا ده.

په وروستۍ ازموینه کې ګډون

وروستۍ ازموینه یوه د ژبې ازموینه او یوه ازموینه د سمت یابی کورس په پای کې چې "په آلمان کې ژوند" په نوم یادیږي، لري. که د آلماني ژبې کافي پوهه ( د ژبې B1 کچه پوهه) ثابته کړئ او د "په آلمان کې ژوند" په ازموینه کې بریالی شی، تاسو په بریالیتوب سره د ادغام کورس بشپړ کړی دی. بیا به تاسو "د ادغام کورس شهادت نامه" ترلاسه کړئ.

که تاسو په یوه یا دواړو ازموینو کې بریالی نه وی، تاسو به د خپلې پایلې یا نتیجې تصدیق ترلاسه کړئ.

KNr. 630.009o Paschtu BAMF 05/2023

په وروستۍ ازموینه کې ګډون وړیا دی.

د ادغام کورس کې د ګډون سره ګټې

بهرني اتباع چې د یو داسې هیواد څخه راځي چې د اروپايي اتحادیې سره تړاو نلري باید یو شمیر شرایط پوره کړي که دوی غواړي په آلمان کې د دایمي استوګنې یا اقامت حق ترلاسه کړي. د نورو نه علاوه تاسو باید د آلمانی ژبې پوره پوهه او د حقوقي او ټولنیز سیستم او په آلمان کې د ژوند شرایطو اساسي پوهه ولرئ. په بریالیتوب سره د ادغام کورس پای ته رسولو سره دا شرایط پوره کیږي. برسېره پردې، تاسو کولی شئ بیا د لزوم په صورت کې ژر تابعیت ترلاسه کړي. برسېره پر دې، د ادغام په کورسونو کې ترلاسه شوي د آلمانی ژبې پوهه په آلمان کې ورځنۍ ژوند اسانه کوي او د کار په بازار کې ستاسو چانسونه زیاتوي.

د فدرال اداري لخوا د ادغام کورس منظوري او کورس چمتو کونکي سره نوم ثبتول

مهرباني وکړئ د منظورۍ لپاره غوښتنلیک په بشپړ او ښه د لوستلو وړ ډول ډک کړئ. که هغه پته چې تاسو لخوا ورکړل شوې دی په بل نوم کې وي، تاسو حتمی دا برخه "  احتمالي توګه د اوسیدوځای په (c/o) "  ډک کړئ. په غیر له دی صورت تاسو ته پُست تسلیم او تحویل کیدې نه شي. په غوښتنلیک کې لیست شوي اسناد ضمیمه کړئ او بیا یې هغه پته ته واستوئ چې پکې مشخص شوي.

که تاسو ته د ادغام په یوه کورس کې د ګډون کولو اجازه وشی، تاسو به د فدرالي اداري څخه د ګډون  په اړه د اجازې  یو  تصدیق چې په اصطلاح د" مستحق کیدو سند" نومیږي، ترلاسه کوئ. ستاسو په نږدې سیمه کې د کورس چمتو کونکي او د کورس ځایونه او همدارنګه ستاسو د فدرالي اداري مسؤل سیمه ایز دفتر په انټرنیټ کې په لاندېني پته کې موندلی شی:

https://bamf-navi.bamf.de/de/

د ادغام کورس ته ستاسو د داخلې اجازه د یو کال لپاره اعتبار لري. د تصدیق لاندې کې د "ګډون کولو مستحق کیدل تر...  اعتبار لري " یو نیټه شتون لري، تاسو کولی شئ  تر دی نیټې خپل ځان د یوه کورس چمتو کونکي سره د یوه ادغام کورس لپاره ثبت کړئ. مهرباني وکړئ د ادغام  یوه کورس لپاره په هغه مرجع کې چې تاسو ته احتمالا ویل شوي نوم لیکنه وکړئ او هلته د ګډون د اجازې سند وړاندې کړئ.که تاسو ته د یوه ځانګړی مرجع نوم نه وي ذکر شوی، خومره چې ژر ممکن وی ځان د خپلې خوښې کورس چمتو کونکي سره ثبت کړئ.

په کورس کې پر وخت د ګډون داډ ترلاسه کولو لپاره، فدرالي اداره کولی شي تاسې یو ځانګړي کورس چمتو کونکي ته واستوي.

د کورس چمتو کونکی باید تاسو ته د یوه کورس د متوقع پیل او شروع اطلاع درکړي. دا کورس باید د شپږو اونیو دننه وخت کې ستاسو د نوم لیکنې نه وروسته پیل شي.  که چیرې پدې وخت کې کوم کورس ترسره نشي، د کورس چمتو کوونکی باید تاسو ته خبر ورکړي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ستاسو د ګډون حق لغوه کیږي، که چیرې تاسو د کوم دلایلو له امله چې تاسی یی مسؤل یاست، د نوم د ثبوتول څخه وروسته حداکثر یو  کال کې د ادغام کورس پیل نکړئ یا د یو کال څخه ډیر په کورس کې  ګډون قطع کړئ.

په کورس کې د مقرراتو مطابق ګډون

دی لپاره چې تاسو د ادغام کورس هدف او مخې ته ورسېږئ، تاسو باید په سمه او منظمه توګه کورس کې ګډون وکړئ. دا پدې معنی ده چې تاسو د کورس تر پای پورې په منظمه توګه درس  ته ځئ او په وروستۍ ازموینه کې  ګډون وکړئ. تاسو ته به ستاسو د کورس چمتو کونکی  په لیکلې بڼه د سمه توګه ګډون تصدیق به وکړي که تاسو دا وغواړئ.

د ماشومانو پالنه

که چیري تاسو د ادغام یو کورس کې د ګډون لپاره د ماشومانو پاملرنې ته اړتیا لرئ، مهربانی وکړئ د کورس چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ. هغه به تاسو ته د ماشومانو پاملرنې موجوده امکاناتو په اړه معلومات درکړي.

د کورس چمتو کونکي بدلول

د کورس چمتو کونکي بدلول اساسا یوازې د کورس د یوې برخې له بشپړېدو وروسته اجازه لري. بدلون یوازې د ځانګړو شرایطو موجودیت کې، په ځانګړې توګه د نقل مکان یا کوچېدو په صورت کې، د برخې وخت او بشپړ وخت کورسونو ترمنځ بدلون، د ماشوم د پاملرنې ممکن کیدو لپاره یا د مسلکي تعلیماتو د پیل کولو یا په کار ګماریدلو لپاره د کورس د یوې برخې بشپړولو وروسته ممکن دي.

د نورو دلایلو له امله بدلون په صورت کې تاسو به د کورس برخې هغه درسي ساعتونه چې نور مو پکې ګډون نه دی کړی له لاسه ورکړئ.

د جواز وړ بدلون په صورت کې، د کورس چمتو کونکی باید تاسو ته د ګډون د اجازې سند بیرته درکړي.

د ادغام کورس لګښتونه

تاسو باید د کورس چمتو کونکي ته د هر ساعت درس لپاره 2,29 یورو د لګښتنو یوه سهمیه یا ونډه ورکړئ. په لګښتونو کې دا ونډه باید د هر د 100 ساعتونو درس سره کورس برخې پیل کولو دمخه او د سمت یابۍ کورس څخه دمخه ورکړل شي . که تاسی درس کې حاضر نه وی د غیرحاضرو ساعتونو لپاره د لګښت ونډه بیرته تاسو ته نه ورکول کیږي. که تاسو خپل عاید نه لرئ، هغه څوک چې ستاسو د ژوند لګښتنو مسؤولیت لري باید د لګښت ونډه ادا کړي.

د تاسو د لګښت له ونډې څخه معاف کیدی شئ که چیرې تاسو اتباعو پیسې یا د ژوند لګښتنو لپاره مرسته (ټولنیز مرسته) ترلاسه کوئ یا که تاسو د نورو لاملونو له امله مالي اړتیا لرئ. تاسو د لګښت له ونډې څخه هم معاف کیدی شئ که چیرې تاسو په کار ګمارل شوي یاست او ستاسو د میاشتنی نا خالص معاش له یوې ټاکلې اندازې څخه ډیر نه وي، دا هغه وخت زیاتیږي که تاسو

ماشومان ولری. تاسو کولی شئ نور معلومات او دقیق مبلغ، کوم چې هر کال بدلیږي، په هریوه ورستي او اوسني غوښتنلیک فورمه کې او https://www.bamf.de/ik-kostenbefreiung ترلاسه کړئ. تاسو باید د فدرالي ادارې هغه سیمه ایز دفتر ته په لیکلي ډول د لګښت ونډې څخه د معافیت غوښتنه وکړئ چې ستاسو مسؤولیت لري.

مهرباني وکړئ د خپل مالي اړتیا په اړه ثبوت سره ( د اړوند تصدیق کاپي د بیلګې په توګه د بیکارۍ د پیسو یا اتباعو پیسو، د ټولنیز مرستې تصدیق، اوسنې د معاش صورت حساب/ د اعتبار وړ کارقرارداد، چې میاشتنۍ نا خالص معاش ثبوت کړی اوهم ثبوتونه چې د هغې نه د مالیه نه د ماشومانو د لګښتنو معافیت ښيي، ورستي د مالیه تصدیق یا د ELStAM برېښنايي عایداتو مالیاتو کسر ځانګړ تیاوې په اړه خپله معلومات ورکول، د کور د کرايي پیسو اخیستل، تعلیم سره د مرستې فدرالي قانون بافوګ BAföG، ماشومانو سره د اضافي پیسو مرستې، د وړکتون د فیس نه د معافیت، د راډیو ټلویزون فیس نه د معافیت، محلي ټولنیز ټکیت او غیره او نور) ضمیمه کړئ.

مهرباني وکړئ هر څومره چې ممکن وي د کورس د ګډون له پیل څخه مخکې غوښتنلیک وسپارئ. که تاسو د کورس په جریان کې غوښتنلیک وسپارئ، د کورس له پیل او شروع نه د لګښت معافیت نشي ورکول کیدی.

د سفر لګښتونه

که تاسو د فدرالي دفتر لخوا د لګښتونو د ونډې ورکولو څخه معاف شوي یاست، تاسو کولی شئ د ادغام کورس ته د خپل سفر

لګښتونو لپاره سبسایډي یا مرسته ترلاسه کړئ. سبسایډي د ټولیزه د پیسو یو مبلغ په بڼه ورکول کیږي. خو شرط تل يې دا دی چې د کورس موقعیت لږترلږه ستاسو له کور څخه ۳ کیلومتره لرې وي. تاسو باید د سفر لګښتونو سبسایډي لپاره د فدرالي ادارې مسؤل سیمه ایز دفتر ته یو غوښتنلیک وسپارئ.

تاسو دغه په انټرنیټ دی پته کې موندلې شئ: https://bamf-navi.bamf.de/de/

د ژبې کورس د حداکثر 300 درسي ساعتونو تکرار

د ځانګړو شرایطو لاندې، تاسو کولی شئ د ژبې کورس تر 300 پورې درسي ساعتونه یو ځل بیا تکرار کړئ. دې لپاره تاسو باید په بشپړه توګه د ژبې کورس کې برخه اخیستې وي، بیا مو دهغه وروسته د ژبې یوه ازموینه ورکړی وي او د هغه په جریان کې مو د آلمانی ژبې کافي پوهه ( د ژبې B1 کچه پوهه) نه وې ثابته کړې.

په تکراري درسي ساعتونو کې د ګډون لپاره یو غوښتنلیک ته اړتیا ده. مهرباني وکړئ دا د فدرالي ادارې سیمه ایز دفتر ته چې ستاسو د اوسېدو ځای مسؤل دی وسپارئ.

که تاسو د سواد زده کړې یو کورس ته ځئ، دی لپاره چې د 300 درسي ساعتونه بیا تکرار وکړی شئ د پرمختللې ژبې کورس تکرارولو لپاره د ژبې په ازموینې کې دمخه ګډون اړین نه دی.

د لګښتونو د ونډې بیرته ورکول

که ستاسو د ګډون حق سند تر31.01.2023 نیټې صادر شوی وي، لاندې پلې کیږي:

فدرالي اداره کولی شي تاسو ته د تادیه شوي لګښتونو ونډې %50 فیصد بیرته درکړي که تاسو د 08.12.2007 نیټې څخه وروسته په بریالیتوب سره په وروستۍ ازموینه کې ګډون کړې وي او ستاسو د ګډون د حق سند د لومړي ځل صادرېدو او وروستۍ ازموینې ترمینځ دوه کاله تیر شوي نه وي. تاسو باید د پیسو د بیرته تادیې لپاره د فدرالي ادارې مسؤل سیمه ایز دفتر ته غوښتنلیک وسپارئ.

د ګډون د حق سندنو لپاره چې د 01.02.2023 نیټې څخه وروسته صادر شوي، مهلت موده دوه کاله ده که تاسو د ادغام په عمومي کورس کې برخه اخیستې وي.

د مهلت موده درې کاله ده که تاسو په یوه ځانګړي ادغام کورس کې (د بیلګې په توګه د سواد زده کړې کورس، د بل ژبې وایونکو خلکو لپاره په لاتین حرفو زدکړه کورس، د والدینو یا میرمنو لپاره د ادغام کورس، د ځوانانو لپاره د ادغام کورس) ګډون کړی وي .

نور څه چې تاسو باید پرې پوه شئ

تاسو کولی شئ د غوښتنلیک ټولې فورمې چې په دې یادښت پاڼه کې ذکر شوي د کورس چمتو کونکي څخه، ستاسو د بهرنیانو چارو اداري دفتر یا د فدرالي اداري سیمه ایز دفتر څخه چې ستاسو د استوګنې ځای مسؤولیت لري هم ترلاسه کړئ. تاسو کولی شئ فورمې په دی ویب پاڼه کې هم ومومئ:https://www.bamf.de/formulare

تاسو دا امکان هم لرئ چې خپل غوښتنلیکونه په ډیجیټل ډول فدرالي ادرې دفتر ته د فدرالي ویب پورټل له لارې واستوئ.

ستاسو لاس رسې ته لاندې غوښتنلیکونه په ډیجیټل ډول شتون لري:

- د ادغام په کورس کې د ګډون لپاره د داخلی د منظورۍ غوښتنلیک
- د ژبې کورس د حداکثر 300 درسي ساعتونو تکرار لپاره د داخلی د منظورۍ غوښتنلیک

- د ادغام کورس د لګښتونو ونډې څخه د معافیت لپاره غوښتنلیک
- د سفر د لګښتنو سبسایډي یا مرسته د ورکولو، په شمول د لوړ ورځني لګښتنو مرستې ورکولو لپاره غوښتنلیک
- د لګښت د ونډې د بیرته ورکولو غوښتنلیک (50%)

تاسو دی انټرنیټ پته سره په فدرالي پورټل کې آنلاین - غوښتنلیکونو ته لاس رسې مومې:

[Internetadresse zu den Online-Anträgen](https://bamf-navi.bamf.de/de/)

تاسو د آنلاین غوښتنلیک وړاندی کولو په اړه نور معلومات دلته موندلې شي:

[Internetadresse zu Informationen zur Online-Antragstellung](https://bamf-navi.bamf.de/de/)

مهرباني وکړئ سربیره پر دې د مهاجرت مشورې مرکزونو او همدارز د ځوانانو مهاجرت خدماتو وړاندیزونو ته هم پام وکړئ. دوی به

تاسو سره په غوښتنلیکونو کې مرسته وکړي، پوښتنو ته ځواب ووایي او ستاسو ستونزو ته پاملرنه وکړي او کولی شي ستاسو لپاره یو

د ادغام مناسب کورس ولټوئ. ستاسو په سیمه کې د مهاجرت مشورې مرکزونه او د ځوانانو مهاجرت خدماتو مرکزونه چیرې دي، تاسو کولی شئ چې دا ستاسو د بهرنیانو چارو ادارې دفتر څخه، د فدرالي ادارې له سیمه ایزو دفترونو څخه یا په دې انټرنیټ پته کې معلومات ترلاسه کړئ: https://bamf-navi.bamf.de/de/

دا لارښود ستاسو لپاره د ادغام په کورس کې د ګډون کولو په اړه خورا مهم معلومات لري. د کورس چمتو کوونکی کولی شي تاسو ته نورې پوښتنې هم ځواب کړي.

تاسو د ادغام کورس کې د ګډون پرمهال د حادثې دولتي بیمې پوښښ نه لرئ.

مونږ تاسو ته د ادغام کورس کې د ګډون پرمهال د بریالیتوب هیله کوو!